وحیدالله ځاځی ۲۰۱۰/۱۲/۱۶

# افغان ماشومان

کله چه می څو وخته مخکی د ناتو د استازی وینا، چه په هغی کې یې د افغانستان د ماشومانو ژوند د هغوئ د همزولو په شان په ګلاسکو او د نیویورک کې وباله، واوریدله. نو د کابل تنکی ماشومان، د خاورو او لوګیو په ډکه فضا کې را په یاد شول. زه نپوهیږم، د ناتو استازی په څه معیار دغه مقایسه کړې ده. خو په افغان ماشومانو کې هرومرو ډیر همت شته، چه هغوئ شپه او ورځ د خپلی کورنی د ژوند د ښه کولو په لار هڅوي، خپلو هیلو اوغوښتنو څخه تیریږي، او د ژوند سختیو سره دغرې وهي. ځینی یې په سرکونو او بازارو کې ډول ډول شیان خرڅوي، د سپینلیو لوګیو څخه پیسې جوړوي، موټرونه په سافیو پاکوي، د ځمکو په سر کار کوي، یا دوکانونو کې لګیا دي. چه ورسره د کومی موضوع په هکله خبرې اترې وشي، نو په میرانه ځواب ورکوي. په اکثرو کې یې د کشر او مشر احترام شته. د ښووني او روزنې وړې دي. البته باید ناتو استازی ته په یوه ټکه کې حق ورکړم. هغه دا چې د غربی نړئ په شان په افغانستان کې د غریب او شتمن ماشوم تر منځ ډیر فرق شته. شتمن ماشوم په موټر کې شخصی ښوونځی ته ځي. خو که غریب ماشوم ته د تعلیم امکانات برابروي، نو ښونځی تر څنګ باید کار وکړي. له بده مرغه د افغانستان د متزلزلی سیاسی او اقتصادی وضعی له امله، افغان ماشوم د ډیرو مادی او روانی خطراتو لاندی دئ. د بمو او راکټونو تر څنګه، کیدائ شي نشه یې عادت او جنسی تعرض سره مخامخ شي. د نجونو ډیر وختی او په زور واده کول، او هلکانو په غاړه ژر مسئولیت اچول یوه بله اجتماعی ستونزه ده.

زه په دې کار نلرم، چه آیا حکومت یا طالبان په حقه دي، یا نه، یا دا چه یو بل سیاسی حرکت ته ضرورت شته. زما نظر د افغان ځوان نسل ته دئ، چه د ځینو احصائیوي اعدادو پر اساس همدا اوس د افغانستان د نفوس ۷۰ فیصده جوړوي. هغومره چه دا نسل بیداره، مادی تشویشو نه فارغه، او د سالم فکر خاوند شي، نو د وطن جوړیدو هیله به ورکه نشي. که دغه نسل د انسانی، معتدل اسلامی او وطنی ارزښونو تر لاندی سترشي، کیدای شي، د ملت کشتئ د دوبیدو نه وژغورله شي. که نه خو دا خطره شته، چه ځوان نسل د بعضی غلطو مشرانو لار ونیسي، او د هیواد راتلونکی به توره وي. مهمه پوښتنه دا ده، چه د دغی توری راتلونکی مخه به څرنګه ونیول شي؟ اګر چه دا خبره واضحه ده، چه د دغسی درندو قدمو د اخیستلو توان یوازی د یوی قوی او ثابتی حکومتی اداری سره شته. خو د یوه خواخوږي انسان تر لاسه څه کیږي، چه د وطن د زیربنا په اساس کې یوه وړه ښښته کیږدي؟ د خپلو خپلوانو نه نیولی، ځینی پاک نفسه خیریه مؤسسی او انسانان شته، چه د هغوئ ملاتړ یو ګټور کار دئ. د بیلګې په ډول دغه لاندی مؤسسی او وګړی، چه ما ته معلوم دي، او حتی بعضی خبریالونو یې ستاینه کړی ده، بیناوم:

- د آشیانه تر نوم لاندی یوه مؤسسه، چه د کابل سرګردانو ماشومانو سره مرسته کوي.
- ښاغلی ایروز، چه یو آلمانی متقاعد نظامی طبیب دئ. د ده مؤسسه په پیښور او څو جنوبی ولایتونو کی د نجونو او هلکانو مکتبونه جوړ کړي دي.
- د جمهوریت د لیسی پخوانئ معلمه Ruthild Meyer-Oehme او د FAOK تر نوم خیریه سازمان، چه په کابل کې څو ښونځیو سره مادی او معنوی مرسته کوي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ